شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**د حديث شريف ژباړه**

**نبي عليه السلام فرمايي:** که چیري یو شخص د خپل امیر له کړنو څخه ناخوښ سي؛ نو صبر دي وکړي؛ څکه چي هر څوك د خپل امیر له اطاعت څخه یوه لوېشت ووځي؛ نو هغه د جاهلیت په مرگ مړ سو. [بخاري باب السمع والطاعة للامام مالم تكن معصية (ص: ۱۰۵۷ ج: ۲)].

**ترجمه حديث شريف**

**نبی اکرم علیه السلام می فرماید:** وقتیکه شخص از کارکرد امیر خود ناراض باشد؛ صبر را اختیار کند؛ زیرا هر شخص که از اطاعت امیر خویش سرپیچی کند، گویا در جاهلیت فوت کرده. [بخاری باب السماء و طاعة به امام مالیم تکن مسیحه (ص: ۱۰۵۷ ج: ۲)].

(د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


شنبه| دمحرم الحرام ۷ -۱٤٤٦ال س/د چنگاښ ۲۳-۱٤۰۳ال ل/ د جولای ۱۳-۲۰۲٤ز/دریم کال / ۱۰٦ گڼه/ ٤ مخیزه




## سر مقاله

### گمرکونه د افغانستان ستره عايداتي سرچينه

گمرکونه، چي اوس مهال د افغانستان ستره عايداتي سرچينه بلل کېږي او له (۵۰) سلني څخه زياته ملي بوديجه له همدې سرچينې څخه تمويلېږي، د افغانستان اسلامي امارت له بيا حاکمېدو سره په دې برخه کي پراخ اصلاحات راغلي دي. په تېره اداره کي، چي گمرکونه د فساد اصلي ځاله بلل کېده او د بيت المال ميليارډونه افغانۍ شخصي جيبونو ته تللې، د افغانستان اسلامي امارت له حاکمېدو سره په گمرکونو کي پر هغو عواملو جدي کار وسو، چي فساد ته ئې زمينه برابروله. الحمد الله اوس د فساد ټول عوامل له منځه تللي او په گمرکونو کي فساد صفر سوی دئ.

د تعرفې او بيي ايښودني کوډونو د تطبيق او اصلاح له پاره تخنيکي کمېټه جوړه سوې، چي دا کمېټه په منظم ډول خپلي ناستي تر سره کوي، چي په (۱۴۰۲) مالي کال کي ئې په (۲۳) فصلونو کي د (۱۰۵۳) تعرفوي کوډونو ارزونه کړې، چي په دې کښي (۸۶۳) ټي سي ايس کوډونه ناسم ثبت سوي ول، اصلاح سول. همدا رنگه د بيي ايښودني په سيستم کي په زرگونو ناسم کوډونه له منځه وړل سوي او شته اصولو ته په کتو سره نوي کوډونه جوړ سوي.

هغه کارکوونکي، چي په فساد کي ښکېل ول، له دندو ليري سوي او پر ځای ئې صادق او ايمانداره کسان گومارل سوي دي.

د گمرکونو د چارو د ارزوني او په ټولو گمرکونو کي د يو شان اجراآتو له پاره، د گمرکونو لوی رياست د رهبرۍ په کچه پلاوی اړتيا ته په کتو سره سفرونه کوي، چي يوازي پروسږ کال ټولو گمرکونو ته شاوخوا (۹۰) سفرونه ترسره سوي. په گمرکونو کي کاري وخت زيات سوی او له ځنډ پرته ټول سوداگريز توکي په چټکتيا سره طی مراحل کېږي.

هره مياشت د ټولو گمرکونو تخنيکي ارزونه کېږي؛ څو شته ستونزي معلومي او د حل لپاره ئې پر خپل وخت اجراآت وسي.

اوسمهال د هېواد په ټولو لويو لارو کي د گمرکونو لوی رياست د گرځنده څارني ټيمونه فعال دي او هيچا ته اجازه نه ورکوي، چي قاچاقي او ممنوعه توکي په ځانگړي ډول هغه توکي، چي زموږ د کورني صنعت د کمزورۍ لامل کېږي، وارد يا صادر کړي.

د سوداگرو د اسانتيا له پاره په گمرکونو کي زياتي پراختيايي پروژې پلي سوي او يا هم د پلي کېدو په حال کي دي، چي په دې پروژو کي ميدانونه، هنگرونه، استنادي دېوالونه، اداري ودانۍ، اړين گمرکي تجهيزات او داسي نور شامل دي.

د يادو ټولو اصلاحاتو او اسانتياوو په پايله کي ورځ په ورځ د گمرکونو چاري ښې کېږي، چي د گمرکونو لوی رياست د وروستۍ تخنيکي ارزوني له مخي د عوايدو د راټولېدو، د تر سره سوي سوداگرۍ، د وارداتي توکو د گمرکي ارزښت، د سوداگريزو محمولو د شمېر، ثبت سوي وزن او داسي نورو شاخصونو کي د (۱۴۰۳) مالي کال په لومړۍ ربعه کي د پروسږ کال د همدې مودې په پرتله د گمرکونو په چارو کي (۲۳،۳) سلنه پرمختگ رامنځته سوی او چاري ئې اغېزمني سوي دي.

**درښت**
**اداره**

## د ماليې وزارت د روان کال له پاره ۱۲۰ اغېزمنو او اقتصادي پروژو ته لومړيتوب ورکړی دئ



د عامه پانگوني او زېربناوو لوی رياست، چي د ماليې وزارت د پاليسۍ معينيت په چوکاټ کي د اقتصادي، مالي او د پراختيايي پروژو د لومړيتوب ورکوني د اقتصادي تحليل د ارزوني او زېربنايي پروژو د شريکولو په برخو کي فعاليت کوي، په (۱۴۰۲هـ.ش) کالی کي ئې د (۳۹۵) ترلاسه سوو پروژ له ډلي (۱۲۰) اغېزمني او اقتصادي پروژې له ارزوني وروسته له مالي او اقتصادي تحليل سره سمي په لومړيتوب کي راوستلي دي.

په دغو (۱۲۰) پروژو کي يو پړاويزي پروژې؛ لکه: (ښوونځی، کلينيك، اداري ودانۍ...) او درې پړاويزي پروژې؛ لکه: (د برېښنا بندونه، چك ډېمونه، د سړکونو کريړ اچونه، د رېل پټلۍ...) شاملي دي، چي د اغېزمنو پروژو په توگه په نښه او د (۱۴۰۳هـ.ل) کال په پراختيايي بوديجه کي د شاملولو په موخه د بوديجې رياست ته استول سوي دي، چي دغه رياست د مالي ظرفيت او امکاناتو په پام کي نيولو سره د (۱۴۰۳) مالي کال له پاره (۷۰) پروژې د ملي بوديجې په سند کي شاملي کړي دي.

سربېره پر دې د عامه پانگوني او زېربناوو لوی رياست د ترلاسه سوو پروژو له ډلي څخه (۸۰) پروژې، چي ودانيزي پروژې؛ لکه: د بوديجوي واحدونو اداري ودانۍ په ځنډېدلي حالت کي پروژې، (۱۷۳) پروژې د راتلونکي کال له پاره د بيا کتني وړ پروژو په توگه او (۲۲) پروژې ئې د اقتصادي ماهيت د نشتوالي له امله رد کړې دي.

د عامه پانگوني او زېربناوو لوی رياست د زېربناوو د مشارکت په برخه کي، د زېربنا سکتور له ادارو څخه (۸۸۹) پروژې د شريکولو په موخه ترلاسه او له تحليل او ارزوني وروسته ئې (۴۷) پروژې د همسيرو (هم لورو) پروژو په توگه په نښه او له اړوندو ادارو سره شريکي کړې دي.

دغه رياست د يادو پروژو له ډلي څخه د سړك جوړولو (۵) پروژې، چي (۲۸۲) کيلومتره اوږدوالی لري او د ټولگټو وزارت پوري اړوندي دي، د نوري فايبر شبکې سره ئې شريکي کړي دي، چي د پلي کېدو په حال کي دي او د يادو (۵) پروژو د شريکولو له امله سپما سوي پيسې (۱،۱۵۶) ميليارډه افغانيو ته رسېږي او د کابل ښاروالۍ د (۴۲) پروژو پلي کولو کار، چي د نوري فايبر، اوبو رسولو او برېښنا پروژو سره هم لوري دي رواني دي؛ تر څو په ښه توگه پلي سي.

## د روان کال په لومړۍ ربعه کي د گمرکونو چارو ۲۳ سلنه پرمختگ کړی دئ



د روان (۱۴۰۳ هـ.ل) مالي کال په لومړۍ ربعه کي د هيواد په گمرکونو کي د ترسره سوو چارو د تخنيکي ارزوني ناسته، د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رئيس الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ د گمرکونو او عوايدو معينيت د غونډو په تالار کي وسوه.

په دغه ناسته کي د گمرکونو لوی رياست مرستيالانو، يو شمېر رئيسانو، آمرينو او په انلاين ويډيويي بڼه د ولايتي گمرکونو مسؤلينو هم گډون کړی وو.

په پيل کي د گمرکونو لوی رئيس ټولو گډونوالو ته ښه راغلاست ووايه او د ولايتي گمرکونو مسؤلينو ته ئې د کارکوونکو تر منځ د پوره همغږۍ رامنځته کېدو، په اخلاص سره د اړوندو چارو د پر مخ وړلو، د سوداگريزو توکو په طی مراحلو کي د لا چټکتيا رامنځته کولو، د چارو د لا ښه والي له پاره له سوداگرو سره د مشورتي ناستو د جوړېدو، د تېرو کلونو د باقياتو د تصفيې او يو شمېر نورو موضوعاتو په اړه لازمي سپارښتني وکړې.

ورپسې د گمرکونو لوی رياست د پلان جوړوني، پاليسۍ، څارني او ارزوني رئيس محمد وسيم عثمان له لوري د روان مالي کال په لومړۍ ربعه کي په گمرکونو کي د تر سره سوو فعاليتونو په تړاو ټوليز راپور وړاندي سو او همداراز په دې موده کي د عوايدو د راټولېدو، د هيواد په ټولو گمرکونو کي د تر سره سوي سوداگرۍ، د وارداتي توکو د گمرکي ارزښت او د سوداگريزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه غونډې ته بشپړ معلومات وړاندي کړل، چي پر بنسټ ئې د پروسږ کال د همدې مودې په پرتله د ټولو گمرکونو چاري په اوسط ډول (۲۳،۳) سلنه مثبتي وښودل سوې.

د غونډې گډونوالو د ياد راپور په اړه هر اړخيز بحث وکړ او د چارو د لا ښه والي له پاره ئې د ولايتي گمرکونو مسئولينو ته لازمي سلا مشورې ورکړې.

د ولايتي گمرکونو مسئولينو هم په خپل وار سره په خپلو اړوندو کاري برخو کي د شته ستونزو يادونه وکړه، چي د گمرکونو لوی رياست د رهبرۍ له لوري ورته د ژر حل کېدو ډاډ ورکړل سو.



**د روغتيايي سکټور استازو ته د مالياتي پروسې په تړاو د پوهاوي سيمينار جوړ سو**


م ۲




**د روزنيز پروگرام دريمي دورې له بشپړاوي وروسته د ۱۱ مستوفيتونو له مالي او حسابي کارکوونکو څخه ازموينه واخيستل سوه**


م ۲





**هیئت وزارت مالیه به منظور بررسی عواید و کارکرد مستوفیت جوزجان به این ولایت سفر کرد**


م ۲




**د کندهار په ولايت کي بېلابېل قاچاقي توکي نيول سوي دي**


م ۲




**په مالي چارو کي د مصنوعي ځيرکتيا رول**


م ۳




**د هند ــ افغانستان مهمه معدني همکاري: فرصتونه او ننگوني**


م ٤

شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

# د روغتيايي سکټور استازو ته د مالياتي پروسې په تړاو د پوهاوي سيمينار جوړ سو

د ماليې وزارت د عوايدو لوى رياست، د ګمرکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ د غونډو په تالار کي د روغتيا سکټور استازو ته د مالياتي پروسې په اړه د يوې ناستي په ترڅ کي د پوهاوي يو ورځنى سيمينار جوړ کړ.
په دې ناسته کي د عوايدو لوى رئيس مولوي حافظ شاه حسين حسيني، د عوايدو لوى رياست د حقوقي خدمتونو او پاليسۍ رئيس مولوي ندا محمد صديقي او د روغتيا سکټور استازو ګډون کړى وو.
د عوايدو لوى رئيس مولوي حافظ شاه حسين حسيني د دغه سيمينار په پرانيستې وينا کي وويل، چي د روغتيا په برخه کي د اسانتياوو رامنځته کول او د هغوى د ستونزو هوارول د اسلامي امارت له لومړيتوبونو څخه دي. د روغتيا سکټور انتفاعي ماليه له (۴) سلني څخه (۳) سلني ته راټيټول هم يو له دغو اسانتياوو څخه شمېرل کېږي. همدارنګه هغه روغتونونه، چي تازه خپل فعاليت پيلوي په لومړي




کال کي له هغوى څخه انتفاعي ماليه نه اخيستل کېږي. د ماليې وزارت د عوايدو لوى رئيس د روغتيا سکټور له استازو څخه وغوښتل، چي له مالياتي ادارو او اړو کسانو سره خپلي همکارۍ ونه سپموي.
د عوايدو لوى رياست د حقوقي خدمتونو او پاليسۍ رئيس مولوي ندا محمد صديقي وويل، چي د عوايدو لوى رياست عدالت ته په کتو د مالياتو پلي کولو ته ژمن دئ او د ماليه ورکوونکو د حقونو د تأمين په برخه کي ئې پوره هڅه کړې. دا ډول روزنيز سيمينارونه د مالياتي ادارو او ماليه ورکوونکو ترمنځ د افهام او تفهيم يوه غوره وسيله ده او د هغوى د مالياتي اطاعت پذيرۍ او د عدالت اصل د پلي کولو په برخه کي مهم رول لوبوي. نوموړي د روغتيا سکټور له استازو څخه وغوښتل، چي د خپلو لګښتونو او حقيقي عوايدو په درج کولو سره دي د شفافيت په رامنځته کولو او د عوايدي تېښتي د مخنيوي په برخو کي اړيني همکارۍ وکړي.
په پاى کي د عوايدو لوى رياست مسئولينو د روغتيا سکټور استازو ته د مالياتو، مالياتو ډولونو، مالياتي پروسې، طرزالعملونو، مالياتي نورمونو، لوايحو، اظهارنامو او د دغه رياست د موخو په تړاو هر اړخيز معلومات وړاندي کړل او د ګډونوالو پوښتني هم ځواب سوې.

# د روزنيز پروګرام دريمي دورې له بشپړاوي وروسته د ۱۱ مستوفيتونو له مالي او حسابي کارکوونکو څخه ازموينه واخيستل سوه

د ماليې وزارت د خزاينو لوى رياست د بشري سرچينو رياست په همکارۍ د (غزني، زابل، روزګان، غور، فارياب، بادغيس، هرات، فراه، کندهار، ننګرهار او نيمروز) ولايتونو د مستوفيتونو د مالي او حسابي برخي کارکوونکو د ظرفيت لوړوني په موخه يو روزنيز پروګرام جوړ کړى وو، چي د دغه پروګرام له بشپړاوي وروسته له يادو کارکوونکو څخه ازموينه واخيستل سوه.
دغه ازموينه، چي د خزاينو لوى رياست د مسؤلينو په شتون کي د ګمرکونو او عوايدو په ملي اکاډمۍ کي واخيستل سوه، د مستوفيتونو د مالي او حسابي برخي (۷۰) تنو کارکوونکو ګډون پکښې کړى وو.
هغو کسانو، چي له دې روزنيز پروګرام څخه په سمه توګه ګټه پورته کړې او په ازموينه کي بريالي سوي دي، خپلې دندي ته به دوام ورکوي او د هغو کسانو پر ځاى به نوي کسان وګومارل سي، چي په ازموينه کي نه وي بريالي سوي.
د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت د خپلو ټولو کارکوونکو د ظرفيتونو لوړولو په برخه کي له مسلکي او تجربه لرونکو استادانو او معياري تدريسي ميتودونو څخه کار اخيستى او هڅه کوي، چي يوه مسلکي، اغېزمنه او د خدمت وړ اداره ولري.



# هيئت وزارت ماليه به منظور بررسی عوايد و کارکرد مستوفيت جوزجان به اين ولايت سفر کرد

هيئت رياست عمومی عوايد وزارت ماليه به سرپرستي مولوی منصور الحق ذاکر، معاون حمايوی اين رياست به منظور افزايش شفافيت و بهبود عملکرد نهاد عايداتی به ولايت جوزجان سفر نموده، فعاليت و عوايد اين ولايت را بررسی نمود.
معاون حمايوی رياست عمومی عوايد در جريان بررسی فعاليت ها و عوايد مستوفيت جوزجان گفت، تمام مصارف کشور از طريق عوايد داخلی تأمين می شود و افزايش عوايد داخلی می تواند وضعيت اقتصادی کشور را بهبود بخشد. تأمين بودجه ملی مسئوليت و مکلفيت هر يک ما است. وی از مسئولان مستوفيت جوزجان خواست تا با جديت بيشتر در جمع آوری عوايد تلاش کنند.
مسئولان مستوفيت جوزجان خاطر نشان ساختند که جمع آوری عوايد اين ولايت بصورت شفاف جريان داشته و تلاش می شود در آينده منابع جديد عوايدی کشف و در افزايش عوايد و تمويل بودجه ملی کمک بيشتر نمايند. آنها همچنان پيشنهادات، نظريات و خواسته های خود را بخاطر بهبود امور، با هيئت متذکره مطرح نموده و از ايجاد شفافيت در اين اداره اطمينان دادند.
هيئت رياست عمومی عوايد نيز تأکيد کردند که به خواسته های آنان نظر به اصول و امکانات موجود رسيدگی صورت خواهد گرفت.




# د کندهار په ولايت کي بېلابېل قاچاقي توکي نيول سوي دي



د ماليې وزارت د ګمرکونو لوى رياست د ګرځنده څارني کارکوونکو د کندهار په ولايت کي، په يو بار وړونکي موټر کي يو شمېر قاچاقي توکي نيولي دي، چي قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته را وارد کړي.
په نيول سوو توکو کي (۵۰۰۰) کيلوګرامه پلاستيکي کڅوړي، (۴۵۹۰) کيلوګرامه ذايقه لرونکي پوړۍ، (۲۰۰) کيلوګرامه قيماق (ملايي)، (۱۱) کارټنه د غوماشو د وژني سپرې، (۲۳۹۲) کيلوګرامه انساني طبي درمل، (۸۰۰) کيلوګرامه د نصوارو پلاستيکي کڅوړي، (۹۶۰) کيلوګرامه چاکلېټ او (۲۴۰) کيلوګرامه پاکټي شيدې شاملي دي.
ياد نيول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو په موخه د کندهار ولايت ګمرک ته سپارل سوي دي.
د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت د ګرځنده څارني کارکوونکي په ټول هيواد کي دوامداره فعاليت کوي او هيچا ته اجازه نه ورکوي، چي ممنوعه او قاچاقي توکي صادر او يا وارد کړي.

# د سپين بولدک په سرحدي ګمرک کي يو تن غل نيول سوى



د ماليې وزارت د ساتني او ځانګړو عملياتو تنفيذي قطعې ويښو مسئولينو د سپين بولدک په سرحدي ګمرک کي يو تن غل، چي د ګمرک د کارکوونکو (۳۴۲۲۵۰) افغانۍ ئې غلا کړي وې، د ګمرکي پوليسو د معلوماتو په اساس له پېژندل کېدو وروسته ونيول سو.
ياد کس د ګمرک د سوداګريزو توکو د جر وهونکو/ پلټونکو کسانو ورځنۍ حق الزحمه، چي هره ورځ د توکو د څښتنانو له خوا ورته راټولېږي، په ډېر ماهرانه ډول غلا کړي وې. د دغه کس له نيول کېدو وروسته يادي پيسې بيرته اړوندو کارکوونکو ته ورکړل سوي دي.
نيول سوى کس د نورو اجراآتو په موخه د سپين بولدک سرحدي ګمرک د استخباراتي تحقيقاتو آمريت ته سپارل سوى دئ.

د ماليې وزارت
د ګمرکونو او عوايدو معينيت
د عوايدو لوى رياست
Afghanistan Revenue Department
ARD

شپږمه برخه
پر انتفاعي معاملاتو باندي د ماليې مثالونه


لومړى مثال: د الف مخابراتي شبکې د (1402) مالي کال په لومړۍ ربعه (حمل، ثور او جوزا) کي (150,000,000) افغانۍ فروشات لري، د نوموړي شرکت د لومړۍ ربعي انتفاعي ماليه په لاندي ډول سنجول کېږي:
150,000,000x10%= 15,000,000
تبصره: پر عايداتو باندي د مالياتو قانون مطابق د مخابراتي شرکتونو ربعواره انتفاعي ماليه (10%) سلنه ده، پر همدې بنسټ د ناخالصو عوايدو مجموعه په (10%) کي ضرب سوې ده، ياد شرکت د (1402) مالي کال په لومړۍ ربعه حمل، ثور او جوزا) کي د (15,000,000) افغانيو انتفاعي ماليې پر ورکړه مکلف دئ.
دوهم مثال: (الف) د ودونو تالار د (1402) مالي کال په لومړۍ ربعه (حمل، ثور او جوزا) کي (1,000,000) افغانۍ ناخالص عوايد لاسته راوړي دي، چي د ياد تالار د لومړۍ ربعي انتفاعي ماليه په لاندي ډول سنجول کېږي:
1,000,000x5%=50,000
تبصره: پر عايداتو باندي د مالياتو قانون مطابق د ودونو محفل جوړولو تالارونو انتفاعي ماليه (5%) ده پر همدې بنسټ د ناخالصو عوايدو مجموعه په (5%) کي ضرب سوې ده، چي ياد د ودونو محفل جوړولو تالار د (1402) مالي کال د لومړۍ ربعي د عوايدو له درکه د (50,000) افغانيو انتفاعي ماليې پر ورکړه مکلف دئ.
دريم مثال: د احمدي خمکني ټرانسپورټي شرکت د (1402) مالي کال په دوهمه ربعه سرطان، اسد او سنبله) کي (10,000,000) افغانۍ ناخالص عوايد لاسته راوړي دي، چي د دغه شرکت د دوهمي ربعي انتفاعي ماليه په لاندي ډول سنجول کېږي:
10,000,000x4%=400,000
تبصره: پر عايداتو باندي د مالياتو قانون مطابق د ټرانسپورټي شرکتونو انتفاعي ماليه (4) سلنه ده، چي د ناخالصو عوايدو مجموعه ئې په (4) سلنه کي ضرب سوې ده، ياد شرکت د (1402) مالي کال د دوهمي ربعي د عوايدو له درکه د (400,000) افغانيو انتفاعي ماليې پر ورکړه مکلف دئ.
څلورم مثال: د سعدي رستورانټ د (1402) مالي کال په دريمه ربعه (ميزان، عقرب او قوس کي (400,000) افغانۍ ناخالص عوايد لاسته راوړي دي، چي د دريمي ربعي د انتفاعي ماليې سنجش ئې په لاندي ډول دئ.
400,000x2%=8,000
تبصره: پر عايداتو باندي د مالياتو قانون مطابق د رستورانټونو انتفاعي ماليه (2%) ده؛ نو د ناخالصو عوايدو مجموعه ئې په (2%) کي ضرب سوې ده او ياد رستورانټ د (1402) مالي کال د دريمي ربعي له درکه د (8,000) افغانيو انتفاعي ماليې پر ورکړه مکلف دئ.
يادونه: هغه اشخاص، چي د انتفاعي معاملو د ربعواري ماليې پر ورکړه مکلف دي، خپلي مالياتي اظهارپاڼي دي په هره ربع کي ډکي کړي او د ورکړي وړ ماليه دي د راتلونکي مياشتي تر پنځلسمي نېټې پوري د کال تر هري ربعي وروسته تحويل کړي.

MofAfghanistan mof.gov.af

شتمني SHTAMANI اوونیزه

# په مالي چارو کي د مصنوعي ځیرکتیا رول

عبدالجبار وحدت
د ملي بودیجې اجرائیوي
رئیس



مصنوعـي ځیرکتیـا سره لـه دې، چـي لـه یـوه لـوري لـه ځـان سره د بېکارۍ خطـر هـم لـري؛ مگـر د پېچلـو او پرمختللـو الگوریتمونـو او دقیقـو تحلیلونـو پـه مـټ ئـې مـالي چـاري هـم خـورا اسـانه کـړي دي. مصنوعـي ځیرکتیـا ډېـری وخـت زمـوږ د فکـر د مجسـم کولـو او ترسیمولو پـه برخـه کـي رول لـري، ډېـری مـالي تحلیلونـه د یـادي ټیکنالـوژۍ پـه مـټ اسـانه سـوي دي، گرافونـه، د ډاټـا هـر اړخیـز تحلیـل او د یـوې مشـخصي موضـوع اړونـد د زرگونـو سـایټونو معلومـات پـه ډېـره دقیقـه توگـه راغونـډوي. د دې ټیکنالـوژۍ پـه مـټ سـازمانونه راتلونکـي بالقـوه خطـرات پـه اسـانۍ سره تحلیلولـی سي او پـه دې برخـه کـي د ډاټـا پـه اسـاس یـوه ښـه تصمیـم نیونـه کـولای سي، داسي اټـکل کېـږي، چـي پـه نـږدې راتلونکـي کـي بـه (AI) پـه مـالي برخـه کـي د ژورو بدلونونـو او پرمختگونـو باعـث سي، د مصنوعـي ځیرکتیـا(AI) رول پـه لانـدي ډول یـادولای سـو:

❖ وړاندوینـه او پیش فرض: پـه مـالي برخـه او بودیجه جوړونـه کـي وړاندوینـه نهایت مهمـه ده، هغـه وړاندوینه، چـي د مشـخصو متحولینـو پـه مـټ ترسره کېږي، د مـالي مدیرانـو لـه پـاره کار ډېـر اسـانوي او د مصنوعـي ځیرکتیا سیسـتمونه د بـازار، قیمـت، قوانینـو او نـورو اړونـدو برخـو د یوځایـي او دقیقـو تحلیلونـو پـه مـټ یـوه ښـه وړاندوینـه کـولای سي او دا وړاندوینـه د پانگوالـو سره د تصمیـم او بودیجـي جـوړوني پـه برخـه کـي ښـه مرسـته کـولای سي.

❖ مـالي تحلیلونـه تـرسره کـول: د مـالي نسـبتونو (Financial Ratios) تحلیلونـه، د گټـي او تـاوان سـناریو وړانـدي کـول پـه مـالي برخـه کـي یـو بـل مهـم بحـث دئ، چـي (AI) دې برخـي تـه هـم ځانگـړې پاملرنـه کـړې ده. یـو مـالي مدیـر کـولای سي، ارقـام د سیسټم پـه ژبـه درج کـړي او یـوه نسـبتاً ښـه پایلـه تـر لاسـه کـړي.

❖ چټکتیـا او دقـت: AI سره لـه دې، چـي چـاري پـه چټـک ډول تـرسره کـوي، پـه عیـن حـال کـي دقـت هـم لـه ځانـه سره لـري، پـه دې شرط، چـي د سیسـتم پـه ژبـه غوښـتنه تـرې وسي، مـالي مدیـران کـولای سي پـه (AI) کـي چټکتیـا او دقـت تجربـه کـړي.

❖ تصمیـم نیونـه Decision making: د پانگوالـو او نـورو ذیدخلـه اشـخاصو لـه پـاره تصمیـم نیونـه یـو مهـم او پـه عیـن حـال کـي سـخت کار هـم دئ، چـي لـه نېکـه مرغـه پـه ځینـو برخـو کـي مصنوعـي ځیرکتیـا د پېچلـو الگوریتمونـو پـه مـټ کـولای سي، مـالي تصمیمونـه پـه خپـل سري ډول ونیـسي؛ لکـه: د اسـهامو پېـر او پلـور، نغـدي نسـبتونه، د سـیالیتوب نسـبتونه او داسي نـور..

❖ د تېروتنـو مخنیـوی: پـه AI کـي د تېروتنـو امـکان ځکـه کـم دئ، چـي ټـولي چـاري سیسـټم پـه منظـم ډول تـر سره کـوي، هـو انسـان فقـط دومـره رول لوبـولای سي، چـي سیسـټم تـه فرمایـش او سـوال پـه سـم ډول او د سیسـټم پـه ژبـه داخـل کـړي، د مصنوعـي ځیرکتیـا پـه مـټ کـولای سي ځینـي ثابـت فورمولیـک ارقـام او پایـلي پـه ښـه ډول پرتـه لـه تېروتنـي تـر لاسـه کـړي.

❖ د خطراتـو کمـول: مصنوعـي ځیرکتیـا د اتومـات الگوریتمونـو پـه مـټ کـولای سي، مـالي خطرونـه تشـخیص او تحلیـل کـړي او لـه مدیرانـو سره مرسـته کـوي، چـي د مـالي خطراتـو مدیریـت لـه پـاره بهترینـي سـتراتیژۍ رامنځتـه کـړي. مصنوعـي ځیرکتیـا خطـرات د ثابتـو فورمولونـو، روشـونو او موډلونـو پـه اسـاس تحلیلـوي، بېـلا بېـلي فـرضي سـناریوگاني درتـه وړانـدي کـوي او نسـبتاً د کـم خطـر لرونکـي سـتراتیژي درتـه پـه گوتـه کـوي، AI بالقـوه مـالي خطرونـه کمـوي.

❖ راپـور ورکونـه: د مـالي مدیرانـو او نـورو کار کوونکـو لـه پـاره راپـور لیکـل یـوه مهمـه او اسـاسي چـاره ده، چـي لـه نېکـه مرغـه مصنوعـي ځیرکتیـا د راپـور ورکولـو مختلف فارمټونـه تـاسي تـه وړانـدي کـوي، کـه تـاسي د یـوې مـالي موضـوع اړونـد راپـور د سـازمان، رهـبرۍ او یـا پـه عـادي کچـه تـرې غـواړئ پـه هـره کچـه راپـور درتـه برابـروي.

# اعلانات داوطلبی

## اعلان داوطلبی (۱۷) باب دوکان ظاهر شاهی مارکیت واقع مندوی کابل مربوط ناحیه اول شاروالی کابل!

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه (۱۷) باب دوکان ظاهر شاهی مارکیت واقع مندوی کابل مربوط ناحیه اول شاروالی کابل را طور جداگانه به شکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد.

۱. یک باب دوکان نمبر ۱٤۱ به مساحت ۱۲,۸ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۵۰۲۷) افغانی.
۲. یک باب دوکان نمبر ۱٤۲ به مساحت ٦,٦۷ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۲۹۷۸) افغانی.
۳. یک باب دوکان نمبر ۱٤۳ به مساحت ٦,٦۷ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۰۳۸۲) افغانی.
٤. یک باب دوکان نمبر ۱٤٤ به مساحت ٤,٦۲۲۵ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۰۹۳۸) افغانی.
۵. یک باب دوکان نمبر ۱٤۵ به مساحت ۵,۳۷۵ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۰٤۱۷) افغانی.
٦. یک باب دوکان نمبر ۱٤٦ به مساحت ٦,۰۲ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۰۱۷۵) افغانی.
۷. یک باب دوکان نمبر ۱٤۷ به مساحت ٦,۰۲ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۰٤۱۷ افغانی.
۸. یک باب دوکان نمبر ۱٤۸ به مساحت ۵,۸ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۰۸۱۵) افغانی.
۹. یک باب دوکان نمبر ۱٤۹ به مساحت ۵,۸ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۰۸۱۵) افغانی.
۱۰. یک باب دوکان نمبر ۱۵۰ به مساحت ٦,۳۸ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۲۱۱۹) افغانی.
۱۱. یک باب دوکان نمبر ۱۵۱ به مساحت ٦,٦ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۲۳۹۲) افغانی.
۱۲. یک باب دوکان نمبر ۱۵۲ به مساحت ٦,٦ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۳۹٤۰) افغانی.
۱۳. یک باب دوکان نمبر ۱۵۳ به مساحت ٦,٦ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۳۹٤۰) افغانی.
۱٤. یک باب دوکان نمبر ۱۵٤ الف به مساحت ۱۳,٦۵ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۷۱٦۳) افغانی.
۱۵. یک باب دوکان نمبر ۱۵٤ ب به مساحت ۱۳,٦۵ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۷۱٦۳) افغانی
۱٦. یک باب دوکان نمبر ۱۵۵ به مساحت ۲۰,۹ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۵۰٦۹۲) افغانی.
۱۷. یک باب دوکان نمبر ۱۵٦ به مساحت ۲۳,٦٦ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۵۵۹٦۰) افغانی.

کوردینات (جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۷۵٦,۳٤,۵۱۷۱ .

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق را داشته باشند میتوانند درخواست های شان را بعد از تاریخ ۱۹/ سرطان/ ۱٤۰۳ الی ۸/ اسد /۱٤۰۳ به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیر تعمیر ۱۴ منزله، منزل۵ مدیریت عمومی ارزیابی قراردادهای مرکز.

شماره تماس (۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤ – ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)

تاریخ مجلس داوطلبی ۹ / اسد / ۱۴۰۳ به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

## اعلان داوطلبی!

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژه (تدارک روغنیات و فلترباب برای وسایط وزارت مالیه) دارای نمبر تشخیصیه (Rebid -۱۱۱-NCB/G/۱٤۰۲/MOF) که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش یا میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۲۸/ سرطان/۱٤۰۳ ساعت ۱۱:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰۸/ اسد /۱٤۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر: به مبلغ ٤۰۰,۰۰۰ (چهار صد هزار) افغانی میباشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

## اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد!

بدینوسیله به تاسی از ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد، (پروژه اعمار مسجد برای ۱۰۰۰ نماز گذار در معینیت عواید و گمرکات وزارت مالیه) دارای نمبر قرارداد ( ۰۲٦-NCB/W/۱٤۰۳/MOF) را با شرکت ساختمانی و انجنیری حلیم حمید دارنده نمبر جواز D-۷۲٦۵۰ و نمبرتشخیصیه مالیه ۹۰۰۲۰۵۲۱۰۹ را به قیمت مجموعی مبلغ ۱۱,۹۷۲,۹۸۰ یازده میلیون نوصد هفتاد و دو هزار نوصد و هشتاد افغانی عقد قرارداد نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۷ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات، کابل ارائه نماید.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکرو طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲۴۵۸۴

## د داوطلبۍ خبرتیا!

د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د کابل گمرک څخه د نیمروز گمرک ته د یو باب تېلو ذخیرې د لیږد او نصب) په پروژه کي، چي تشخیصیه نمبر ئې (۰٤۸-NCB/W/۱٤۰۳/MOF) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په ښه تر سره کېږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼي له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي ادرسونو څخه ترلاسه کړي.

ځای: پښتونستان واټ، د مالیې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو ریاست – د تدارکاتو مشاوریت

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

د آفر تضمین: شل زره (۲۰۰۰۰) افغانی.

تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلې نېټه: د (اسد/ ۰۱ مه۱۴۰۳) د سهار ۱۱:۰۰ بجې.

د آفرگشایي ټاکلې نېټه: د (اسد/۰۹/ ۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

په ځنډ رسېدلي او انټرنیټي افرونه د منلو وړ نه دي

## د داوطلبۍ خبرتیا!

د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي ( د نیمروز گمرک د گودامونو د بیا رغوني) په پروژه کي، چي تشخصیه نمبر ئې (۰٤۷-NCB/W/۱٤۰۳/MOF) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په ښه تر سره کېږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼي له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي ادرسونو څخه ترلاسه کړي.

ځای: پښتونستان واټ، د مالیې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو ریاست – د تدارکاتو مشاوریت

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

د آفر تضمین: پنځلس زره (۱۵۰۰۰) افغانی.

تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلې نېټه: د (اسد/ ۰۲ مه۱۴۰۳) د سهار ۱۱:۰۰ بجې.

د آفرگشایي ټاکلې نېټه: د (اسد/۱۰/ ۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

په ځنډ رسېدلي او انټرنیټي افرونه د منلو وړ نه دي

شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

د امتياز څښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ويبسايټ: mof.gov.af
ايکس پاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)





# Customs Affairs Progress by 23% in Q1 of Current FY1403



under the chairmanship of Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed, the General Director of Customs of MoF. In the session, a comprehensive report of the activities carried out in the customs in the first quarter of current year was presented. Complete information was provided about the collection of revenues, the trade conducted in the customs, the customs value of imported goods/ commodities and the number and registered weight of commercial cargos during this period.

**According to the evaluation report, customs affairs observed an average 23.3% positive on a YoY basis comparatively.**

In accordance with the presented report, comprehensive technical discussions were held, and the problems and suggestions of the officials of the provincial customs were heard for the further improvements of the affairs. The officials of the provincial customs were assured for removing the obstacles and significant suggestions were given as well in this regard.

# Various Contrabands Seized in KDR After Mobile Surveillance Staff of General Directorate of Customs Nabs Smugglers

**The mobile surveillance staff of the General Directorate of Customs of MoF has seized a number of contrabands in a truck in Kandahar (KDR), which the smugglers wanted to secretly import into Afghanistan. Among the seized contrabands are 5,000kg of plastic bags, 4,590kg of flavor powder, 200kg of cream (Malai/ clotted cream), 11 cartons of insecticide**




**spray, 2,392kg of medicine, 800kg of Naswar's (snuff) plastic bags, 960kg of chocolate and 240kg of powder of milk. The mentioned contrabands and the accused persons have been handed over to the customs of Kandahar for further proceedings. Notably, the mobile surveillance staff of MoF works continuously throughout the country and does not allow anyone to export or import contrabands.**




# د هند ــ افغانستان مهمه معدني همکاري فرصتونه او ننګوني

د ساوت اېشيَن وايسيز ـ South Asian Voices په نوم يوې امريکايي رسنۍ د افغانستان او هندوستان تر منځ د زېرمو/کانونو د همکارۍ په تړاو د طه علي يوه مقاله خپره کړې ده، چي له پيليزي او دريو فرعي سرليکونو سره په تولیز ډول پر فرصتونو او ننګوونو را څرخي.

مقاله ليکي، چي هند پر برېښنايي برخو ډېره پانګونه کړې ده؛ نو په بهرنۍ تګلاره/ پاليسي کي دې ډول موضوع ګانو ته بايد توجه ډېره کړي او له بلي خوا بيا افغانستان د ليتيم (Li) زېرمي/کانونه تر (۱) ټريليون امريکايي ډالرو پوري رسېږي، چي دا د هند د برېښنايي وسائطو (EV) د هيلو له پاره کليدي رول لري.

مقاله ليکي، چي د هند ښکېلتيا به يوه ستراتيژيکه پانګه اچونه وي.

د «ليتيم له پاره د هند غوښتنه» تر سرليک لاندي کاږي، چي چين اوسمهال د نړۍ د ليتيم پروسيس ظرفيت شاوخوا (٦٠٪) په واک کي لري او د چيلي او استرااليا په څېر هيوادونو کي د ليتيم کان کيندني په پروژو کي ئې د پام وړ پانګونه کړې ده.

مقاله وايي، چي د ليتيم ـ آيون بيټرۍ (Lithium-ion batteries) د برېښنايي وسايطو د انرژۍ ذخيره کولو سيستمونو له پاره اهمي دي، ځکه چي دا د باثباته انرژۍ په ملاتړ تماميږي. د هند د ګټو له پاره د ليتيم لاسرسی مهم دئ، مګر د جيو پولېټيکل د تاو تريخوالي، د سيمه ييزو شخړو او يا د سوداګريزو محدوديتونو له امله هندوستان له خنډونو سره مخ دئ.

متن زياتوي، چي په افغانستان کي د ليتيم کان کيندني په برخه کي د هند لومړنۍ علاقه به ستراتيژيکه وي. نوي ډيلي په تېرو دوو لسيزو کي په افغانستان کي ميلياردونه



ډالر لګولي دي؛ ترڅو ډاډ ترلاسه کړي، چي په دې ملك کي د خپلو سياسي او امنيتي ګټو د خوندي کولو له مخي ګټه حاصله کړي.

د افغان ليتيم په استخراج کي پانګه اچونه به د نوي ډيلي له پاره يوه لاره وي. مقاله وايي، چي د اسلامي امارت له نظره، د ليتيم کان کيندني په برخه کي له هند سره ښکېلتيا/ اشتراك ډېره ګټه لري. په اقتصادي لحاظ دا د عايدو او پانګوني خورا اړيني سرچينې دي.

په ټوليز ډول مقاله اسلامي امارت دې ته هڅوي، چي له هند سره د ليتيمو پر سر معامله وکړي.

«د افغانستان د سياسي او سوداګريز چاپېريال سمون» تر سرليك لاندي کاږي: ((په افغانستان کي به په لويه کچه کان کيندني د پام وړ مالي پانګوني ته اړتيا ولري؛ نو نوی ډيلی کولای سي د خپلي ښکېلتيا يا ګډون په مرسته اسلامي امارت دې ته سوق کړي، چي ځيني خورا اړين اصلاحات تر سره کړي.))

د افغانستان له پاره د هند په تګلاره/ پاليسۍ کي بدلون کولای سي د افغانستان اقتصادي حالت ښه کړي او د نړيوالي ښکېلتيا او ګډون ساحه پراخه کړي. ډيلی د دې سبك لري، چي د افغانستان د کانونو په سکټور کي له خپلي ښکېلتيا څخه ګټه واخلي.

د مقالې د متن پر بنياد ډيلي کابل په دې الفاظو سره خپلي خوا ته هڅولی دئ: «هند اړتيا لري، چي له خپل اوسني محتاط چلند څخه له اسلامي امارت سره د لا فعالي ښکېلتيا او ګډون پر خوا روان سي.»

## د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومي ستونزي حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړيکه ونيسئ!
اړيکه: ۲۲۱

## رياست عمومی ګمرکات وزارت ماليه همېشه در خدمت شماست!

اګر شما در مورد ګمرکات به هر نوع معلومات نياز داريد و يا ميخواهيد مشکل تان حل و شکايت تانرا به سمع ما برسانيد، ميتوانيد به شماره ذيل با ما در تماس شويد!
تماس: ۲۲۱



## د شکايتونو اورېدلو خپلواک آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي

هر هيوادوال، چي د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای سي، چي د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له خپلواك آمريت سره ئې په حضوري بڼه او يا د لاندي ادرسونو له لاري شريك کړي.

ټيليفون او واټساپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( +۹۳ )

برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af

شتمني اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمي وي. له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو څخه هيله کوو، چي خپلي مقالې د دغه برېښناليک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.